

د وېرمونټ روغتیايي خدماتو ته د لاسرسي څانګه

د روغتیايي مراقبتونو د پروګرام لارښود

GreenMountainCare
A HEALTHIER STATE OF LIVING

فهرست

فهرست 2
د ګرین ماونټین د مراقبتونو پروګرام ته ښه راغلاست 4
د پروګرام نومونه 4
ستاسې د ګرین ماونټین د مراقبتونو کارت 4
روغتیايي خدماتو او راجع کول 5
د پالنې لومړی چمتو کوونکی (PCP) 5
له کاري ساعتونو څخه د باندې مراقبت 5
متخصصین 5
که چېرې ستاسې ډاکټر د ګرین ماونټین مراقبتونه و نه مني 6
د لیدنو لپاره د انظار وختونه 6
د سفر مدت/د لارې اوږدوالی 6
دوامداره معاینې 7
خدمات 7
ستاسې د خدماتو په پروګرام کې کوم موارد شامل دي (هغه خدمات چې تاسې یې ترلاسه کولای شئ) 7
ستاسې د خدماتو په پروګرام کې ناشامل موارد 8
د Medicaid او Dr. Dynasaur له لارې د خدماتو د ترلاسه کولو پروګرام 8
تمې 8
له استفادې مخکې اجازه 9
مداوم طبي وسایل (DME) 9
دواګانې او له استفادې مخکې اجازه 10
بېړني حالات 11
کله چې تاسې باید خپله لګښتونه تادیه کړئ 11
که چېرې مو بېل ترلاسه کړ 12
که چېرې کومه بله بیمه لرئ 12
Medicaid او Dr. Dynasaur 12
په Medicaid او Dr. Dynasaur کې شامل خدمات 12
د Medicaid د خدماتو لپاره تادیات 14
کمکي تادیات 14
Primary Care Plus (*PC Plus*) یا د اصلي مراقبتونو پروګرام 14
د Medicaid او Dr. Dynasaur له خوا مدیریت کېدونکي مراقبتونه 14
د پالنې د لومړي چمتو کوونکي (PCP) تبدیلولو 15
متخصصین، ستاسې د پالنې د لومړي چمتوکوونکي (PCP) په حیث 15
د پروګرام غړیتوب له لاسه ورکول 15
ستاسې حقوق او مسؤلیتونه 16
تاسې حق لرئ چې 16
تاسې مسؤلیت لرئ چې د لاندې مواردو په نظر کې نیولو سره د خپلې روغتیا مراقبت وکړئ 16
د ژوند هیلې او د چارو پاڼه (Advance Directives) 16
د بدن د غړو ورکول 18

د خپلې پالنې له لومړي چمتو کوونکي (PCP) سره د معلوماتو شریکول.....18
د محرمیت د چارو اعلامیه.....18
د کیفیت د تضمین پروګرام.....18
کله چې تاسې له کوم اقدام سره مخالف یئ.....19
استیناف/د پرېکړې بیاکتنه.....19
آیا د پروګرام دننه استیناف له پرېکړې سره نه یئ موافق؟ تاسې کولای شئ د دولتي استماعیي غوښتنه وکړئ. ..20
د روغتیایي امتیازاتو دوام.....21
نارضایتۍ.....22
آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟.....22
د وېرمونټ روغتیایي خدمات او د ګرین ماونټېن مراقبتونو د مشتریانو د ملاتړ مرکز.....22
د روغتیایي مراقبتونو د وکالت دفتر (HCA).....23
اضافي معلومات.....23
نور پروګرامونه.....23
Adult Day خدمات.....23
د حاضرینو د خدماتو پروګرام (Attendant Services Program).....23
د ماشومانو اړوند خدمات (CIS).....23
د ماشومانو اړوند خدمات – لومړنۍ مرستې (CIS-EI).....24
د ماشومانو د فردي مراقبت خدمات.....24
د ځانګړو روغتیایي اړتیاوو لرونکو ماشومانو (CSHN) کلنیک.....24
Choices for Care پروګرام.....24
د نمویي معلولیت خدمات.....24
د مالي مرستې پروګرام.....24
له کورنیو سره غیر ثابې مالي مرستې (Flexible Family Funding).....25
د پرمختللې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د مراقبتونو کور.....25
د کور د مشر د خدماتو لپاره دی.....25
ځانګړي کلنیکونه.....25
ځانګړي خدمات.....25
د وېرمونټ د لومړیو غږیزو ستونزو د تشخیص او مرستو پروګرام.....26
رواني روغتیا.....26
د غیر بستري لویانو خدمات.....26
د ماشومانو، ځوانانو او کورنیو خدمات.....26
ځانګړي کلنیکونه.....26
ځانګړي خدمات.....26
مغز ته د رسېدلیو ضربو پروګرام.....27
د ښځو، نویو زیږېدلیو ماشومانو، او ماشومانو پروګرام (WIC).....27
توجه! که چېرې په خپله ژبه مرستې ته اړتیا لرئ، لطفا 1-800-250-8427 شمېرې ته زنګ ووهئ.....27

2019 جولای

د ګرین ماونټېن د مراقبتونو پروګرام ته ښه راغلاست

د دې لارښود په لومړۍ پاڼه کې د پروګرام په هکله عمومي معلومات راوړل شوي دي چې زموږ د روغتیايي مراقبتونو د ټولو پروګرامونو لپاره د تطبیق وړ دي. وروستۍ برخې د هغو پروګرامونو په هکله معلومات وړاندې کوي چې تاسې ګډون پکې کړی. که چېرې نېوهېږئ چې په کوم پروګرام کې مو ګډون کړی او یا پوښته لرئ، نو لطفا د 1-800-250-8427 شمېرې له لارې د وېرمونټ روغتیايي خدماتو او د ګرین ماونټېن مراقبتونو د مشتریانو د ملاتړ له مرکز سره اړیکه ونیسئ. کولای شئ له دوشنبه تر جمعې، د سهار له 8:00 د ماښام تر 5:00 پورې زنګ ووهئ (د رخصتیو په ورځو کې بند وي). دا نمبر ستاسې د ګرین ماونټېن د مراقبتونو د کارت پر شا هم موندلی شئ.

ګرین ماونټېن مراقبتونه له چمتو کوونکو څخه د کیفیت په وړاندې کولو او ټولو غړو ته د اړینو روغتیايي خدماتو د چمتو کولو په برخه کې ملاتړ کوي، او ډاکټرانو ته توصیه کوي چې اړینو روغتیايي خدماتو ته لاسرسی محدود یا لغوه نه کړي. ګرین ماونټېن مراقبتونه ستاسې سره ستاسې د فدرالي بندیزونو او شرایطو پر بنسټ تعصبي چلند نه کوي. د ګرین ماونټېن د مراقبتونو د پروګرام په هکله د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د 1-800-250-8427 شمېرې له طریقه د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ

که غواړئ چې د ګرین ماونټېن خدمات مو لغوه کړئ، نو د وېرمونټ روغتیايي خدماتو او د ګرین ماونټېن مراقبتونو د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته په 1-800-250-8427 زنګ ووهئ. که غواړې په لیکلي بڼه مو خدمات لغوه کړئ، مهرباني وکړئ لاندې آدرس مو خپله غوښتنه پوسټ کړئ:

DCF/Economic Services Division
ADPC
103 South Main Street
Waterbury, VT 05671-1500

د پروګرام نومونه

Medicaid د ماشومانو، والدینو، پالونکو، لویانو، د لارښود په شرایطو برابرو معلولینو، او هغو بې اولاده لویانو لپاره د روغتیايي مراقبت پروګرام دی چې زموږ مشخص شرایط یې پوره کړي وي. د Medicaid اوږدمهاله مراقبتونه هغو کسانو ته وړاندې کېږي چې روغتیايي معیارونه (لکه څنګه چې د معلولینو، بوډا افرادو، او خپلواک ژوند د څانګې له خوا تعیین شوي دي) یې پوره کړي وي او د عوایدو او مالي سرچینو د لارښود سره تطابق ولري.

Dr. Dynasaur د 19 کلنو یا کوچنیو ماشومانو او مېندوارو ښځو لپاره د Medicaid یو ځانګړی پروګرام دی.

ستاسې د ګرین ماونټېن د مراقبتونو کارت

ستاسې آیډي کارت به ستاسې کور ته درولېږل شي. مهرباني وکړئ د ورغتیاي خدماتو مرکزونو ته د تللو په وخت کې مو خپل کارت وښایاست. که چېرې مو د دې لارښود له ترلاسه کولو وروسته په یوه میاشت کې خپل نوی آیډي کارت ترلاسه نکړ، نو په 1-800-250-8427 د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او د نوي کارت غوښتنه وکړئ. که چېرې تاسې کومه بله روغتیايي بیمه هم لرئ، نو چمتو کوونکي ته مو د دواړو بیمو آیډي کارتونه وښایاست.

روغتیایي خدماتو او راجع کول

د پالنې لومړی چمتو کوونکی (PCP)

د "لومړی" لغت د اولي په مانا دی. PCP لومړنی کس دی چې تاسې روغتیایي مراقبتونو ته اړتیا په صورت کې اړیکه ورسره نیسئ. PCP به مو تاسې ته ډېری روغتیایي مراقبتونه چمتو کړي او که چېرې اړینه وي، ستاسې سره به د ځانګړو مراقبتونو په مهالوېش کې مرسته وکړي.

که چېرې مو PCP نوی شوی وي، له خپل پخواني PCP وغواړئ چې ټول روغتیایي سوابق مو نوي PCP ته ولېږي. نوي PCP ته مو وواياست چې ستاسې سوابق به ورته ورسېږي. دا اړینه ده چې له PCP سره ستاسې روغتیایي سوابق موجود وي.

له کاري ساعتونو څخه د باندې مراقبت

کوښښ وکړئ چې د روغتیایي ستونزو د حل لپاره مو له PCP سره د کاري ساعتونو په جریان کې لیدنه وکړئ. که چېرې تاسې د روغتیایي مراقبتونو بېړنی ستونزه لرئ او د پالنې د لومړي چمتو کوونکي (PCP) دفتر تړلی وي، نو تاسې کولای شئ چې د خپل PCP دفتر ته زنګ ووهئ او د مرستې یا مشاورې غوښتنه وکړئ.

ستاسې د PCP دفتر په اونۍ کې 7 ورځې د 24 ساعتونو لپاره د لاسرسي وړ دی او کولای شئ د مرستې غوښتنه وکړئ. د بېړنیو او عاجلو مراقبتونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د دې لارښود 11 مې پاڼې ته لاړ شئ.

متخصصین

متخصص هغه چا ته ویل کېږي چې اضافي روزنې یې ترلاسه کړي وي او د روغتیایي مراقبتونو د پروګرام په یوه مشخصه برخه کې کار کوي. د بېلګې په توګه، که چېرې تاسې د زړه ناروغي لرئ، نو ستاسې PCP به ستاسې لپاره د زړه له متخصص سره د لیدنې وخت ونیسي. دې ته "راجع کول" ویل کېږي. ډېری وختونه، متخصص ډاکټر ته له مراجعې مخکې باید له خپل PCP سره ووینئ. PCP ستاسې سره مرسته کوي ترڅو معلومه کړئ چې آیا متخصص ډاکټر ته اړتیا لرئ او که نه، او همدارنګه ستاسې سره د متخصص ډاکټر په انتخابولو کې مرسته کوي. که چېرې PCP ستاسې لپاره د متخصص ډاکټر سره وخت و نه نیسي، نو تاسې باید د ملاقات لپاره پیسې تادیه کړئ. که چېرې اړتیا وي چې په مکرر ډول له متخصص سره لیدنه وکړئ، نو کولای شئ له خپل PCP څخه وغواړئ چې تاسې په مکرر ډول متخصص ته راجع کړي.

که چېرې ستاسې ډاکټر د ګرین ماونټېن مراقبتونه و نه مني

که چېرې له داسې چمتو کوونکي سره وینئ چې زموږ په پروګرام کې نه وي شامل، کولای شئ په پروګرام کې له ګډون څخه وروسته تر 60 ورځو پورې هغه ته مراجعه وکړئ. دا یواځې هغه وخت واقع کېدی شي که چېرې:

- تاسې داسې ناروغي ولرئ چې ژوند ته مو ګواښوونکي وي، **یا**
- داسې ناروغي ولرئ چې له امله یې ښایي معیوب شئ یا مو د بدن کوم غړی کار پرېږدي، **یا**
- له دریو میاشتو څخه ډېره مېندواره وئ، **او**
- چمتو کوونکی د پروګرام نرخونه قبول کړي او د پروګرام مقررات عملي کړي.

د 60 ورځنۍ مودې د تمدید، او د پروګرام د راجع کولو او چمتو کوونکو په هکله د نورو معلوماتو لپاره، په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ. همدارنګه کولای شئ vtmedicaid.com وېبسایټ ته لاړ شئ او "د چمتوکوونکي پلټل" آپشن په کلېک کولو سره هغه چمتو کوونکي معلوم کړئ چې د ګرین ماونټېن مراقبونه قبلوي. هغه چمتو کوونکي چې په "له شبکې څخه د باندې" لېست کې راغلي، د ګرین ماونټېن د روغتیایي خدماتو بیمه نه قبلوي.

کوم چمتو کوونکی چې وینئ، باید د ګرین ماونټېن مراقبتونه قبول کړي. که چېرې داسې نه وي، هغوی ته ستاسې د درملنې لپاره د ګرین ماونټېن مراقبتونو له خوا پیسې نه ورکول کېږي او تاسې په خپله باید ټول لګښتونه تادیه کړئ. که چېرې تاسې کومه بله بیمه لرئ چې ستاسې د درملنې ټول یا قسمي لګښتونه تادیه کوي، نو چمتو کوونکی باید ستاسې دواړې بیمې قبولې کړي.

د لیدنو لپاره د انظار وختونه

کله چې د خپل PCP له دفتر سره اړیکه نیسئ نو باید په لاندې مودو کې د لیدنې وخت ونیسئ:

- په 24 ساعتونو کې؛ دا په هغه صورت کې چې په راتلونکو 24 ساعتونو کې پرته له مراقبت له ترلاسه کولو، له کور څخه ستاسې وتل ستاسې د صحت لپاره ګواښوونکي وي،
- د وړو ستونزو لپاره په 14 ورځو کې، او
- د محافظتي مراقبت (لکه کلنۍ/دوامداره فزیکي معاینه) لپاره په 90 ورځو کې.

ډېرې وختونه، تاسې باید اړتیا و نلرئ چې د لیدنې وخت د نیولو لپاره له یو ساعت څخه زیات د چمتوکوونکي په دفتر کې پاتې شئ. په یاد ولرئ: که چېرې د لیدنې په تعیین شوي وقت کې ډاکټر ته مراجعه نه کوئ، نو دا ستاسې مسؤلیت دی چې لیدنه مو لغوه کړئ یا یې له سره تعیین کړئ.

که داسې کومه ستونزه لرئ چې که ژر تر ژره یې درملنه ونشي نو ستاسې روغتیا ته جدي ګواښ پېښوي، نو د بېړنیو مراقبتونو اتاق ته مراجعه وکړئ. وروسته له دې چې د بېړنیو مراقبتونو اتاق ته لاړئ، نو ژر تر ژره مو له PCP سره اړیکه ونیسئ.

د سفر مدت/د لارې اوږدوالی

موږ هڅه کوو چې تاسې د لاندې سفرونه په جریان کې هم چمتو کوونکي ته لاسرسی ولرئ:

- د پالنې لومړي چمتو کوونکي (PCP) ته 30 دقیقې لاره،
- روغتونونو ته 30 دقیقې لاره،
- ځینو نورو خدماتو لکه لابراتوار، اېکس ري، درملتون، د عینکو پلورنځي، د رواني ناروغیتو مرکزونه، MRI او د ناروغانو د بستر خدماتو ته 60 دقیقې لاره.

دوامداره معاینې

تل د ناروغیو وقایه له درملنې څخه غوره ده. د وقایې یوه لار دا ده چې PCP مو په دوامداره توګه معاینه کړي. ستاسې ډاکټر ستاسې سره مرسته کوي ترڅو معلومه کړئ چې څو ځله او څومره باید معاینه شئ. د پالنې له لومړي چمتو کوونکو څخه مو وغواړئ چې نظر ستاسې عمر او د ګواښ انفرادي فکتورونو ته، تاسې ته مو د روغتیایي مراقبت اړینې معاینې وښیي.

د وېرمونټ د روغتیا څانګه د معایناتو ته په اړه ځینې مشورې چمتو کوي. د نورو معلوماتو لپاره په 1-800-464-4343 شمېره د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته زنګ ووهئ، او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

خدمات

ستاسې د خدماتو په پروګرام کې کوم موارد شامل دي (هغه خدمات چې تاسې یې ترلاسه کولای شئ)

د ګرین ماونټېن مراقبتونو ډېری پروګرامونه د ځینو مقرراتو او محدودیتونو په تطبیق سره، د چمتوکوونکي/متخصص سره لیدنې، په روغتون کې مراقبتونه، نسخې، او ډېر نور خدمات چمتو کوي. د دې لپاره چې پوه شئ ستاسې په پروګرام کې کوم موارد شامل دي، له 12مې څخه تر 14مې پاڼې ته مراجعه وکړئ.

EPSDT څه شی دی؟

EPSDT د ماشومانو او له 21 کلنو څخه کوچنیو ماشومانو لپاره Medicaid او Dr. Dynasaur خدمات دي. دا هڅه کوي چې د امکان تر حده ماشومان صحتمند وساتي. **EPSDT** اخیستل شوی دی له Early Periodic Screening Diagnostic Treatment، د تشخیصه درملنې لپاره وختي دوره یي معاینات. دا باید:

- د زیږون په وخت کې، او له هغې وروسته لومړنۍ ستونزې معلومې کړي
- په مکرر ډول د ماشومان صحت چک کړي
- د ستونزو د پیدا کولو لپاره معاینات ترسره کړي
- د ستونزو د پیدا کولو په صورت کې تعقیبي ګامونه واخلي او
- د ټولو موندل شوو ناروغیو درملنه وکړي

د EPSDT د کار طریقه

EPSDT یو فدرالي قانون دی. دا قانون بیانوي چې ایالتي دولت باید د روغتیا پالنې د ټولو اړینو صحي خدماتو لګښتونه تادیه کړي. **صحي خدمات،** د روغتیا اړوند مراقبتونو ته ویل کېږي. **او** دا هغه څه دي چې ډېری ډاکټران یې د ناروغیو د درملنې لپاره ترسره کوي. دا د ځینو خدماتو لګښتونه تادیه کوي چې ممکن لویان نه وي پکې شامل. ځینې خدمات لومړی باید د اجازه ورکونې په لومړۍ پروسه کې وړاندې شوي وي.

په EPSDT کې دا موارد شامل دي

- دوامداره معاینات
- د ماشوم د ودې او زده کړې څارنه
- تصویرونه

- د سترګو معاینات
- د غوږونو معاینات
- د زهري سرپو چک
- د غښاونو له ډاکټرانو سره لیدنې
- مشاورې

څو ځلې د ماشوم معاینات ترسره کېږي؟
دلته د ځینو صحي معایناتو لست موجود دی چې ماشومان او ځوانان یې باید هر کال ترسره کړي. د لست د لیدلو لپاره **دلته** کلېک وکړئ.د غاښونو د معایناتو د لست د لیدلو لپاره **دلته** کلېک وکړئ.

EPSDT د دې مواردو لګښتونه نه تادیه کوي:

- هغه خدمات یا موارد چې د Medicaid په فدرالي قانون کې نه وي راغلي (د ټولنیز خوندیتوب د قانون 1905(a) برخه).
- هغه تجربي مراقبتونه چې خوندي نه دي او یا کار نه کوي.
- هغه قیمته خدمات او موارد چې د هغو ارزانه هم عین نتیجه لري.
- غیر روغتیایي خدمات.

د نورو معلوماتو لپاره www.greenmountaincare.org ته مراجعه وکړئ او یا 1-800-250-8427 ته زنګ ووهئ

ستاسې د خدماتو په پروګرام کې ناشامل موارد

- د کار له امله پیدا شوي زخمونه چې باید لګښتونه یې کارکوونکی په خپله تادیه کړي،
- د محکمې د خدماتو مصارف، مګر دا چې د صحي نظره اړتیا وي ورته،
- تجربي یا پلټنیز خدمات،
- د فېشن خدمات (ستاسې د ظاهري ښکلا خدمات)،
- هغه خدمات چې له صحي نظره اړین نه دي،
- سوزني طب، فشاري درملنې، او یا د مساج له امله درملنې،
- د بارداری خدمات (هغه خدمات چې ستاسې سره مرسته کوي ترڅو حامله شئ)،
- د روغتیایي کلبونو غړیتوب، او
- په بهرنیو هېوادونو کې مراقبتونه.

د Medicaid او Dr. Dynasaur له لارې د خدماتو د ترلاسه کولو پروګرام

تمې

که چېرې 21 کلنو یا لویو کسانو ته ځینې خدمات د Medicaid له لارې نه چمتو کېږي، کولای شي د ترلاسه کولو غوښتنه یې وکړي. د مشتریانو د ملاتړ مرکز ستاسې سره د درخواست په ثبتولو کې مرسته کوي. ستاسې او ستاسې له چمتو کوونکي څخه به وغوښتل شي چې د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته مو د خدماتو د اړتیاوو په هکله معلومات ورکړئ. موږ به په 30 ورځو کې تاسې ته د پوسټ له طریقه ځواب درولېږو. EPSDT د 21 کلنو او لویو کسانو لپاره ټول اړین روغتیایي خدمات چمتو کوي. که چېرې کوم مورد د خدماتو په لست کې نه و موجود، نو ستاسې چمتو کوونکی باید له استفادې مخکې مجوز په لرلو سره د هغې د چمتو کېدو غوښتنه وکړي.

د پروسې په هکله د نورو معلوماتو د پیدا کولو او د ستثنآتو په هکله د پوښتنو د مطرح کولو لپاره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ. فورمونه کولای شئ په www.greenmountaincare.org/member- وېبسایټ کې په آنلاین بڼه پیدا کړئ

له استفادې مخکې اجازه

ګرین ماونټین مراقبتونه له ډاکټرانو، نرسانو او نورو مسلکي افرادو سره ګډ کار کوي ترڅو ډاډ حاصل کړي چې تاسې ته چمتو کېدونکي خدمات له روغتیایي نظره اړین دي. ځینې خدمات یا دواګانې باید مخکې له استفادې څخه لومړی تایید شي. دې پروسې ته له استفادې مخکې اجازه وایي. ستاسې د خدماتو چمتو کوونکي پوهېږي چې دا خدمات او دواګانې کومې دي، او هغوی به ستاسې لپاره له استفادې مخکې د اجازې غوښتنه وکړي.

له استفادې مخکې اجازې په اړه تصمیمونه د اړینو معلوماتو له ترلاسه کولو څخه 3 ورځې وروسته نیول کېږي. تاسې او ستاسې چمتو کوونکي دواړو ته به د یوه لیک له لارې د تصمیم په هکله خبر درکړل شي.

مداوم طبي وسایل (DME)

مداوم طبي وسایل (DME) هغه وسایل دي چې د ژوند د طبي شرایطو په آسانتیا کې ستاسې سره مرسته کوي. ویلچرونه او د روغتونونو کټونه د DME بېلګې دي.

زه د Medicaid خدمات ترلاسه کوم او DME ته اړتیا لرم. څنګه یې ترلاسه کړم؟

1. **چمتو کوونکی به تاسې د ارزونې یوه ترسره کوونکي ته راجع کړي.**

- ډېرې ارزوونکي فزیکي یا شغلي معالجین دي. ارزوونکی به ستاسې سره یوه ارزونه ترسره کړي. د ارزوونکي د بوختیا په صورت کې باید د ارزونې د ترسره کولو لپاره په تمه شئ. همدارنګه کېدی شي اړینه وي چې د DME چمتو کوونکي ته هم په تمه شئ ترڅو ستاسې سره د وسایلو په استفاده کې مرسته وکړي. د DME چمتوکوونکی هغه کمپنی ده چې وسایل یې تولید کړي دي.
- **نوټ:** که چېرې ستاسې اړین DME ساده او آسانه وي، نو کېدی شي ارزونې ته اړتیا ونلرئ. که چېرې ستاسې چمتوکوونکی تاسې ته ووایي چې ارزونې ته اړتیا نه لرئ، نو دوهمه مرحله پیل کړئ.
- ارزوونکی به تصمیم ونیسي چې تاسې کومو DME ته اړتیا لرئ، او ستاسې چمتو کوونکي ته به د ارزونې فورم ولېږي.

2. **چمتو کوونکی به تاسې ته د تجویز شوو وسایلو نسخه ولیکي.**

- چمتو کوونکی به د ارزونې فورم لاسلیک کړي او د DME نسخه به د وسایل تولیدوونکي ته ولېږي.

3. **د DME تولیدوونکی به له Medicaid څخه د استفادې مخکې اجازه وغواړي.**

که چېرې تاسې له استفادې مخکې اجازې ته اړتیا نه لرئ، 5مې مرحلې ته لاړ شئ.

- که چېرې تاسې د DME لپاره له استفادې مخکلې اجازې ته اړتیا لرئ، نو تولیدوونکي کمپنی به ستاسې د اړینو DME په اړه Medicaid ته معلومات ولېږي. له استفادې مخکې اجازه داسې ترسره کېږي چې Medicaid باید ووایي چې تاسې کولای شئ وسایل استفاده کړئ.
- یو کلینیکي بیاکتونکی به ستاسې د معلوماتو بیاکتنه وکړي. بیاکتونکی به وګوري چې آیا تاسې دې وسایلو ته له طبي نظره اړتیا لرئ او که نه.
- کېدی شي کلنیکي بیاکتونکی اضافي معلوماتو ته اړتیا ولري ترڅو تصمیم ونیسي چې آیا دا وسایل له طبي نظره اړین دي او که نه. که چېرې بیاکتونکی اضافي معلوماتو ته اړتیا ولري، نو Medicaid به د DME له تولیدوونکي څخه وغواړي چې هغه ته معلومات چمتو کړي. د وسایلو تولیدوونکی باید په 12 ورځو کې معلومات ولېږي. کله چې Medicaid ټول معلومات ترلاسه کړل، بیاکتونکی باید په 72 ساعتونو کې خپل تصمیم ونیسي.

- که چېرې DME په کور کې د روغتیایي لیدنو په پروګرام کې شامل وي، نو کله چې لومړی ځل DME غوښتل کېږي، تاسې باید له خپل چمتو کوونکي سره ووینئ

4. Medicaid به تاسې ته د پرېکړې په اړه خبرتیا درولېږي

- Medicaid به تاسې ته د یوه لیک له لارې د پرېکړې په هکله خبرتیا درکړي چې د پرېکړې لیک ورته وایي. همدارنګه Medicaid به ستاسې چمتو کوونکي او د DME تولیدوونکي ته دا لیک ولېږي. په وېرمونټ کې، Medicaid د وېرمونټ د روغتیایي خدماتو د لاسرسي د څانګې (DVHA) له خوا په مخ بېول کېږي، نو ځکه لیک به هم د (DVHA) له خوا لېږل کېږي.

5. د DME تولیدوونکی با تاسې ته DME درکړي.

که چېرې Medicaid تایید کړي نو د DME تولیدوونکی به تاسې ته DME درکړي او یا به ستاسې پر ځای د هغې ترلاسه کولو ته درخواست ورکړي.

که چېرې مو د Medicaid تاییدي ترلاسه نه کړه، کولای شئ د پرېکړئ پر وړاندې د عریضه وکړئ او د بیاکتنې غوښتنه یې وکړئ. د پرېکړې پر وړاندې د عریضې کولو لپاره، په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ. Medicaid ډېره هڅه کړې چې په وېرمونټ کې د DME د درخواست د تاییدئ موده راکمه کړي. د پرمختللو ویلچرونو لپاره دا موده 9 ورځې ده. دا موده له هغې مودې څخه کمه ده چې د Medicaid په مقرراتو کې ذکر شوې ده. همدارنګه دا موده له ملي اوسط مودې څخه هم کمه ده. د ساده وسایلو لپاره، دا موده نوره هم کمه ده. که چېرې تاسې Medicaid او Medicare خدمات کوئ او یا د بیمې نورې طرحې لرئ، نو کېدی شي دا پروسه ډېر وخت ونیسي.

دواګانې او له استفادې مخکې اجازه

ګرین ماونټین مراقبتونه هم لکه د بیمې نور شرکتونه هڅه کوي چې په ښه کیفیت او ارزانه بیه روغتیایي خدمات وړاندې کړي. د لګښتونو د کمولو لپاره، د ګرین ماونټین مراقبتونه له چمتو کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ترجیح شوو درملو له لست څخه دواګانې تجویز کړي. د ترجیح شوو درملو په لست کې ځینې درمل عمومي دي چې بیه یې کمه ده. د دې درملوکاریي له هغو قیمته درملو سره مشابه ده چې د درمل جوړونې شرکتونو له خوا اعلانېږي. چمتو کوونکی او فارمسیسټ باید هغه دواګانې تجویز کړي چې بیې یې ټیټې دي او له طبي نظره کومه ستونزه نه لري. که چېرې تاسې تجویز شوي درمل رد کړل، نو د ګرین ماونټین مراقبتونه به د غیر ترجیح شوو درملو لګښتونه ورنکړي.

د اوږدمهاله مشخصې درملنې دواګانې باید د 90 ورځو لپاره تاسې ته درکړل شي. دا هغه درمل دي چې معمولا د غوره روغتیا اداره کولو لپاره خوړل کېږي. دا د فرد پر وضعیت پورې تړاو لري او د وینې د لوړ فشار د کنټرول، د کلسترول او ډیابیټ درمل پکې شامل دي، خوا یوازې په دې مواردو پورې محدودې نه دي. کله چې په لومړي ځل تاسې ته درمل تجویز کېږي نو د لنډې مودې لپاره به وي ترڅو تاسې او ستاسې چمتو کوونکی پوه شي چې آیا دا درمل ستاسې لپاره ګټمن دي او که نه. وروسته له هغې به بیا د 90 ورځو لپاره درمل درکړل شي.

که چېرې ستاسې چمتو کوونکی فکر وکړي چې تاسې پرته له ترجیح شوې درملو نورو درملو ته هم اړتیا لرئ او یا مو درمل د 90 ورځو لپاره نه وي، نو هغه به د درملو د لګښت د پرداخت لپاره زموږ څخه اجازه وغواړي. که چېرې غواړئ چې د ترجیح شوو درملو او یا د 90 ورځنیو درملو لست ووینئ نو د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او یا http://dvha.vermont.gov/for-providers/preferred-drug- list-clinical-criteria وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

بېړني حالات

بېړنی حالت هغو آني او غير مترقبته ناروغتيو، صحي شرايطو او يا رواني وضعيت ته ويل کېږي چې جدي علايم لري او که چېرې يې ژر تر ژره يې مراقبت ترسره نه شي، نو د ناروغ صحت او ژوند ته جدي ګواښ پېښولی شي. دلته يې ځينې بېلګې راوړو، خو يوازې په دې مواردو پورې محدود نه دي:

- د سينې درد
- د هډوکې ماتېدل
- آني ټکان يا حمله
- شديده خونرېزی
- شديده سوزېدنه
- شديد درد
- رواني ناورين

له بېړني وضعيت وروسته خدمات، چې له بېړني وضعيت څخه وروسته د ناروغ د ښه کېدو او صحت په اړه اطمينان حاصلوي، هم په دې پروګرام کې موجود دي.

د بېړني وضعيت خدمات لکه کوک، جراحي، اېکس رې، يا نور ورته اقدامات هم په دې پروګرام کې شامل دي.

که چېرې له کوم بېړني وضعيت سره مخامخ کېږئ، نو 911 شمېرې ته زنګ ووهئ او يا تر ټولو نږدې د بېړنيو خدماتو مرکز يا روغتون ته مراجعه وکړئ ترڅو ژر تر ژره د بېړني مراقبتونه ترلاسه کړئ. د بېړنيو مراقبتونو د ترلاسه کولو لپاره د PCP راجع کولو ته اړتيا نه لرئ. هرڅومره ژر چې کولای شئ، د پېښې په اړه مو خپل PCP ته خبر ورکړئ.

که چېرې له ايالت يا شبکې څخه د باندې مو بېړنيو مراقبتونو ته اړتيا پيدا کړه، د ګرين ماونټېن مراقبتونه به خپله ټوله هڅه وکړي چې د هغې محل چمتوکوونکي ته خبر ورکړي ترڅو وضعيت کنټرول کړي. لګښتونه يې زموږ له خوا ورکول کېږي. خپل معلومات او د ترلاسه شوي بېل جزئيات مو د 1-800-250-8427 شمېرې له لارې د مشتريانو د ملاتړ مرکز ته رېپوټ کړئ.

لطفا پام مو وي چې د ګرين ماونټېن مراقبتونه نه شي کولی ضمانت وکړي چې د ايالت يا شبکې څخه د باندې چمتوکوونکي به د ګرين ماونټېن د مراقبتونو بيمه ومني، نو ځکه شايد مجبور شئ چې په خپله مو د خدماتو لګښتونه تاديه کړئ.

کله چې تاسې بايد خپله لګښتونه تاديه کړئ

که چېرې تاسې د پروګرام مقررات عملي نه کړئ، بايد خپله مو د خدماتو لګښتونه تاديه کړئ. د بېلګې په ډول، د لاندې مواردو د واقع کېدو په صورت کې دا وضعيت پېښېدی شي:

- که چېرې د خدماتو ترلاسه کول، راجع کولو يا له استفادې مخکې اجازې ته اړتيا ولري او تاسې هغه ونلرئ،
- که چېرې تاسې داسې کوم چمتو کوونکي ته مراجعه وکړئ چې د ګرين ماونټېن مراقبتونو بيمه نه قبلوي،
- که چېرې چمتو کوونکی تاسې ته ووايي چې ستاسې د خوښې خدمات په پروګرام کې نه دي موجود، او تاسې لا هم د هغې غوښتنه کوئ.

که چېرې نه غواړئ د روغتياپالنې له خدماتو څخه بېلونه ترلاسه کړئ نو د پروګرام ټول مقررات په پام کې ونيسئ.

که چېرې مو بېل ترلاسه کړ

که چېرې د پروګرام ټول مقررات په پام کې ونیسئ، پرته له ځینو اضافي روغتیایي لګښتونو څخه، د روغتیایي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره به هېڅ ډول لګښت په تاسې رانشي. که چېرې مو کوم بېل ترلاسه کړ، لاندې مراحل تعقیب کړئ:

- دفعتا بېل راخلاص کړئ،
- چمتو کوونکي ته زنګ ووهئ، او ځان ډاډه کړئ چې هغه په ګرین ماونټېن مراقبتونو کې ستاسې د ګډون په هکله خبر دی
- د مرستې لپاره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

که چېرې کومه بله بیمه لرئ

که چېرې کومه بله بیمه لرئ، نو تاسې باید د همغې بیمې مقررات په پام کې ونیسئ. هغو چمتو کوونکو ته مراجعه وکړئ چې ستاسې د بیمې په پلان او زموږ په پروګرام کې شامل دي. چمتو کوونکی به لومړی ستاسې د بلې بیمې بېل چمتو کړي. زموږ پروګرام کېدی شي هغه خدمات وړاندې کړي چې ستاسې بله بیمه یې نه وړاندې کوي.

زموږ پروګرام یوازې چمتو کوونکو ته تادیات کوي. که چېرې تاسې خپله د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره پیسې تادیه کړې، نو موږ نه شو کولای بېرته تاسې ته پیې درکړو.

Medicaid او Dr. Dynasaur

لاندې جدول په Medicaid او Dr. Dynasaur پروګرامونو کې شامل خدمات ښیي. مخکې له دې چې هغو خدماتو ته نوملیکنه وکړئ چې راجع کولو ته اړتیا لري، لومړی د خپلو مراقبتونو له لومړي چمتو کوونکي سره وګورئ. مخکې له دې چې ستاسې چمتوکوونکی تاسې ته کوم خدمت چمتو کړي، باید د مراقبتونو د چمتو کوونکو له خدماتو سره اړیکه ونیسي ترڅو ډاډه شي چې دا خدمت ستاسې په پروګرام کې شامل دی. که چېرې په لست کې د ناموجودو خدماتو په هکله کومه پوښتنه لرئ، د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

په Medicaid او Dr. Dynasaur کې شامل خدمات
الکول او د موادو د ناوړه استفادې درملنه
امبولانس روغتیا یا ژوند ته د ګواښوونکي بېړني وضعیت په وخت کې راجع کولو ته اړتیا نشته. هرڅومره ژر چې کولای شئ، خپل PCP ته خبر ورکړئ.
له حاملګی څخه مخنیوی/فامیلي طرحې له حملګی څخه د مخنیوي میتودونه او مشاورې پکې شاملې دي. کېدی شي اړتیا ولرئ چې خپل PCP، د نسائي ناروغیو متخصص، یا Planned Parenthood ته مراجعه وکړئ
د مساج او ستون فقرات د خای پر خای کولو خدمات یوازې د ستون فقرات اړوند موارد. د ټولو 12 کلنو یا کوچنیو ماشومانو لپاره په یوه کال کې له 10 څخه زیاتو لیدنود لپاره د استفادې مخکې اجازه. د 5 کلونو څخه کم عمره ماشومان د دوی د پاملرنې د لومړي ډاکټر له خوا د طبي اړتیاوو اسنادو ته اړتیا لري.
د غاښونو خدمات د لویانو امتیازات هر کال د پیو محدودیتونه لري. د ماشومانو، مېندوارو ښځو یا تر 60 ورځنیو زچه وو لپاره د پیسو هېڅ ډول محدودیت نه دی موجود

په Medicaid او Dr. Dynasaur کې شامل خدمات
د مصنوعي غاښونو خدمات یوازې له 21 کلنو څخه د کم عمره غړو لپاره د لاسرسي وړ دي.
د شکر ناروغۍ په برخه کې مرستې او مشورې نسخه اړینه ده.
له ډاکټر سره لیدنې
بېړني خدمات ژوند او صحت ته د ګواښوونکو بېړنو وضعیتونو لپاره راجع کولو ته اړتیا نشته. دفعتا 911 ته زنګ ووهئ او یا د بېړنیو مراقبتونو اتاق ته لاړ شئ.
د سترګو آزموینې (مهالوېش) د سترګو د ناروغیو یا زخمونو درملنې راجع کولو ته اړیا لري.
عینکې یوازې له 21 کلنو څخه د کم عمره غړو لپاره د لاسرسي وړ دي.
د نسائي ناروغیو متخصص (د ښځو د روغتیا مراقبتونه)
د غوړونو د ناروغتیو په برخه کې مرستې
په کور کې درملنه
روغتون
واکسین
په روغتون کې د ناروغ پالنه
لابراتواري معاینات
د ولادت په وخت کې مراقبتونه (د ولادت متخصص)، په شمول د تصدیق شوو نارسانو او قابلو
طبي وسایل او تجهیزات کېدی شي نسخې یا له استفادې مخکې اجازې ته اړتیا وي. 8مه پاڼه وګورئ.
د روانې روغتیا خدمات د نورو معلوماتو لپاره 24مه پاڼه وګورئ.
د یوناني دواګانو ډاکټران که چېرې خپل PCP مو د یوناني دواګانو ډاکټر نه وي، نو په دې صورت کې راجع کول اړین دي
شغلي، فزیکي، یا غړیزه درملنه
د مؤقتي ناروغانو مراقبتونه
له نسخې پرته درمل نسخه اړینه ده.
فزیکي درملنې کله چې ستاسې د پالنې له لومړي چمتو کوونکي له خوا چمتو شي.
د پښو د ناروغیو درملنې د پښو یوازې هغه مراقبتونه چې په مهالوېش کې نه دي شامل.
نسخه شوي درمل نسخه اړینه ده. ځینې درمل له استفادې مخکې اجازې ته اړتیا لري. هغه مشتریان چې د Medicare او Medicaid دواړو په شرایطو برابر دي، باید د نسخو د ترلاسه کولو لپاره د Medicare د D برخې د نسخه شوو دواګانو په پلان (PDP) کې هم ګډون وکړي.
د بدن د مصنوعي غړو خدمات کېدی شي نسخې یا مخکې تایید ته اړتیا وي.
تشعشع یا کیموتراپي

په Medicaid او Dr. Dynasaur کې شامل خدمات
د روڅني مهالوېش کتنه
د دود ضد محصولات نسخه اړینه ده.
جراحي
ټرانسپورټ په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.
اېکس رې

د Medicaid د خدماتو لپاره تادیات

- د Medicaid مشتریان باید د غاښونو له ډاکټر سره د هرې لیدنې په بدل کې 3 ډالر تادیه کړي.
- د Medicaid مشتریان باید د نسخو د ترلاسه کولو په بدل کې 1، 2، یا 3 ډالر تادیه کړي.
- د Medicaid مشتریان باید له ډاکټر سره د هرې مؤقتي لیدنې په بدل کې 3 ډالر تادیه کړي.

ځینې خدمات له روغتون څخه د باندې په یوه دفتر کې وړاندې کېږي چې دې خدماتو ته له روغتون څخه د باندې خدمات ویل کېږي. له روغتون څخه د باندې خدماتو د لګښتونو لپاره مو له چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.
که چېرې موجود وي نو ستاسې اضافي لګښت له 3 ډالر وي.

ډېرې هغه ماشومان، مېندواره ښځې او نور کسان چې په کورونو تر مراقبت لاندې دي اړتیا نه لري چې اضافي تادیات وکړي. هغه کسان چې د سینې او رحم د سرطان د درملنې په پروګرام کې ونډه لري، اړتیا نه لري چې اضافي تادیات وکړي.

تاسې د لاندې مواردو په برخه کې اضافي تادیاتو ته اړتیا نه لرئ:

- وقایوي خدمات
- د کورنیو د پلان خدمات او مرستې
- بېړني خدمات
- د جنسي ځورونې اړوند خدمات

کمکي تادیات

د Dr. Dynasaur ځینې غړي باید میاشتني کمکي تادیات تحویل کړي. د کورنیو د کمکي تادیاتو مقدار د کورنۍ په عوایدو، د کورنۍ د غړو په تعداد، او د صحي بیمې په حالت پورې تړاو لري. کله مو چې خپل لومړنی بېل ترلاسه کړ نو دفعتا یې تحویل کړئ ترڅو د خدماتو ترلاسه کول مو پیل شي. ټول بېلونه مو په خپل وخت تادیه کړئ ترڅو د خدماتو ترلاسه کول مو متوقف نه شي. که چېرې مو د کمکي مواردو تادیات بند شول، د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ ترڅو پوه شئ چې څومره قرضدار یئ او څنګه تادیات ترسره کړئ.

Primary Care Plus (*PC Plus*) یا د اصلي مراقبتونو پروګرام

د Medicaid او Dr. Dynasaur له خوا مدیریت کېدونکي مراقبتونه

د Medicaid او Dr. Dynasaur هغه غړي چې نورې بیمې نه لري، باید په *PC Plus* کې هم ګډون وکړي ترڅو د خدمات یې دوام ولري. کله مو چې د *PC Plus* د غړیتوب فورم ترلاسه کړ، نو د مشتریانو د ملاتر مرکز ته زنګ ووهئ او یا فورم بېرته د پوسټ له لارې هغوی ته ولېږي.

د Medicaid او Dr. Dynasaur هغه غړي چې د *PC Plus* غړيتوب لري، کولای شي داسې PCP انتخاب کړي چې د دوی د کار له ځای يا له کور څخه د 30 دقيقو لاري فاصله لري. که چېرې حد اقل دوه داسې PCP نه وي موجود چې ستاسې څخه د 30 دقيقو لاري فاصله ولري، نو اړتيا نلرئ چې په *PC Plus* کې ګډون وکړي. همدارنګه ستاسې څخه به وغوښتل شي چې د کور له 18 کلنو ټيټو ټولو ماشومانو لپاره مو د غاښونو د ډاکټر وټاکئ. د *PC Plus* چمتو کوونکو تا پيسې ورکول کېږي ترڅو د پروګرام غړو د مراقبتونو په مديريت کې مرسته وکړي. دوی د غړو د روغتيا د مراقبتونو د محدودولو لپاره له مالي نظره نه تشويقېږي.

د پالنې د لومړي چمتو کوونکي (PCP) تبديلولو

تاسې کولای شئ هر وخت چې وغواړئ، د مشتريانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او خپل PCP مو تبديل کړئ. دا به وروسته ستاسې له درخواست څخه، د راتلونکې مياشتې په لومړۍ نېټه تبديل شي.

متخصصين، ستاسې د پالنې د لومړي چمتوکوونکي (PCP) په حيث

که چېرې تاسې داسې ګواښوونکي شرايط، ناروغی، او يا معلوليتونه ولرئ چې ځانګړي مراقبت او اوږدمهاله درملنې ته اړتيا لري، نو کولای شئ چې خپل متخصص مو د PCP په حيث وټاکئ. متخصص بايد دا تاييد کړي، او تاسې بايد د وېرمونټ روغتيايي خدماتو ته د لاسرسي د څانګې (DVHA) د رئيس تاييدي هم واخلئ.
که چېرې تاسې د PC Plus، د PCP د تبديلولو، او يا د PCP په حيث د متخصص د تعينولو په برخه کې پوښتنې لرئ نو د مشتريانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

په www.vtmedicaid.com وېبسايت کې د چمتو کوونکي د پلټون په کلېک کولو سره کولای شئ هغه ډاکټران پيداکړئ چې د ګرين ماونټېن مراقبتونو PC Plus خدمات قبلوي.

د پروګرام غړيتوب له لاسه ورکول

د پروګرام غړيتوب له لاسه ورکول په دې مانا دي چې تاسې د PC Plus له خدماتو څخه ايتسل کېږئ. که چېرې تاسې له *PC Plus* څخه وايستل شئ په اړه يې پوښتنه لرئ نو د مشتريانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.
د لاندې مواردو د وقوع په صورت کې به تاسې د *PC Plus* څخه وايستل شئ:

- که چېرې شخصي صحي بيمه ولرئ؛
- د چېرې د Medicare خدمات ترلاسه کوئ؛
- که چېرې د پالنې کورونو يا کورنيو مراقبينو ته مراجعه وکړئ؛
- که چېرې د Medicaid او Dr. Dynasaur غړيتوب لرئ او د ايالت يوې داسې منطقې ته کډه وکړئ چې هلته نه شئ کولای حد اقل دوه داسې PCP انتخاب کړئ چې د *PC Plus* غړي وي (مګر دا چې تاسې خپله وغواړئ په *PC Plus* کې پاتې شئ).
- د دې لپاره چې د *PC Plus* خدمات مو دوام ولري، تل لاندې موارد په پام کې ونيسئ:
  - » زموږ سره همکاري وکړئ او تل مؤدبه اوسئ، ګواښوونکي مه اوسئ؛
  - » له ډاکټر سره د هغې درملنې په برخه کې همکاري وکړئ چې تاسې توافق پرې کړی؛
  - » خپلو ليدنو ته حاضر شئ يا؛
  - » تل مخکې له مخکې زنګ ووهئ او خپلې ليدنې مو لغوه کړئ.

که چېرې تاسې له *PC Plus*، وايستل شئ، د شرايطو د پوره کولو په صورت کې به بېرته د Medicaid خدمات ترلاسه کړئ.

ستاسې حقوق او مسؤلیتونه

تاسې حق لرئ چې

- متواضع او مؤدب برخورد درسره وشي،
- توجه درته وشي،
- خپل چمتو کوونکي مو خپله وټاکئ یا یې تبدیل کړئ،
- د خپلو چمتوکوونکو یا خدماتو په هکله مو په حقایقو پوه شئ،
- په داسې اصطلاحاتو مو د خپلې روغتیا په اړه معلومات ترلاسه کړئ چې تاسې ته د پوهېدو وړ وي،
- د خپلې روغتیا په اړه په تصمیم نیونه کې شریک اوسئ، په شمول د دې چې ستاسې ټولې پوښتنې باید ځواب شي، او د درملنې د ردولو حق ولرئ،
- د خپلو طبي سوابقو کاپی ترلاسه کړئ، او کولای شئ په هغې کې د غلطۍ د شتون په صورت کې، د هغې د تبدیلولو غوښتنه وکړئ،
- د وېرمونټ د Medicaid پروګرام د متخصص چمتوکوونکي نظر بیا واخلئ،
- د روغتیا د مراقبتونو او یا د پروګرام په هکله مو خپلې اندېښنې مطرح کړئ (د نورو معلوماتو لپاره 20 پاڼه وګورئ)،
- د هر ډول بندیزونو یا انزوا څخه آزاد اوسئ او د نورو د زورګویۍ، تنبیه، سهولت، یا بالمثله عمل ښکار نه شئ، او
- د خپلو اړینو خدماتو د بندېدو په صورت کې، د پرېکړې د تجدید غوښتنه وکړئ. د نورو معلوماتو لپاره 19 پاڼې ته مرجعه وکړئ.

تاسې مسؤلیت لرئ چې د لاندې مواردو په نظر کې نیولو سره د خپلې روغتیا مراقبت وکړئ:

- ستاسې د ناروغیو د سابقې او د اعراض او علائمو په هکله ستاسې چمتو کوونکي ته خبر ورکول؛
- کله چې اضافي معلوماتو ته اړتیا لرئ او یا په کومه مسئله سم نه یئ پوه، د پوښتنو مطرح کول؛
- د درملنې د هغو پلانونو تطبیقول چې تاسې او چمتو کوونکوي مو پرې اتفاق کړی؛
- له ډاکټرانو سره خپلې لیدنې ته حاضرېدل، او یا یې مخکې له مخکې د لغوه کولو غوښتنه؛
- ستاسې د پروګرام په مقرراتو ځان پوه کول، ترڅو هغه له هغو خدماتو ترټولو ښه ګټه واخلئ چې د ترلاسه کولو غوښتنه مو یې کړې؛
- مخکې له دې چې نورو چمتو کوونکو ته مراجعه وکړئ، د PCP له خوا د راجع کېدو په هکله ځان ډاډه کول (که چېرې اړینه وي)؛
- کله چې اړینه وي، د اضافي لګښتونو او کمکي تادیاتو پراخت؛
- کله چې کومې لیدنې ته نشئ حاضرېدلی، د زنګ له لارې د لیدنې لغوه کول او یا له سره وخت نیول.

د ژوند هیلې او د چارو پاڼه (Advance Directives)

دلته مو د وېرمونټ د لارښوونو د تعقیبولو د قانون (چې د 231 فصل په 18مه ماده کې یې موندلی شئ) عمومي لنډیز راوړی، او دا چې دا قانون ناروغانو ته کوم موارد بیانوي:

د چارو پاڼه یا Advance Directives یو لیکلی سند دی چې په هغې کې ستاسې د چارو د تعقیب استازی، ستاسې د پالنې لومړی چمتوکوونکی، او ستاسې د روغتیایي مراقبتونو لارښوونو او د درملنې د موخو په هکله معلومات موجود دي. دا پاڼه ممکن د روغتیایي مراقبتونو لپاره یوه دوامداره وکالتنامه، او یا د نهایي مراقبتونو لپاره یو سند وي. د چارو د ترسره کولو پاڼې یا Advance Directives وړیا دي.

لویان کولای شي د چارو له پاڼو څخه ګټه واخلي ترڅو د ځان لپاره یو یا ډېر داسې کسان انتخاب کړي چې د هغوی لپاره د روغتیایي مراقبتونو په برخه کې د تصمیم نیولو صلاحیت ولري. دا چې هغوی کوم صلاحیتونه ولري، تاسې د کومو خدماتو غوښتنه کوئ او کوم خدمات نه غواړئ، او دا چې خپلې انفرادي مسئلې لکه د جنازې ترتیبات څنګه کنټرول کړئ، دا ټول تاسې خپله تعیونئ. همدارنګه، د اړتیا په صورت کې، د چارو پاڼه کېدی شي د سرپرست په حیث د یو یا ډېرو کسانو د تعینولو او د هغو کسانو د مشخصولو لپاره وکارول شي چې تاسې نه غواړئ ستاسې په اړه تصمیم ونیسي.

که چېرې ستاسې وضعیت داسې وي چې د خپلې روغتیا مراقبت نه شئ کولی، او بېړنی حالت هم نه وي، نو ستاسې چمتو کوونکی نه شي کولای مخکې له دې چې ستاسې د چارو د پاڼې د موجودیت په هکله ځان ډاډه کړي، تاسې ته د روغتیایي مراقبتونه وړاندې کړي. د روغتیایي مراقبتونو هغه چمتو کوونکي چې ستاسې د چارو د پاڼې په لرلو خبر دي، باید د چارو په پاڼه کې موجودې لارښوونې او یا د هغه کس لارښوونې تعقیب کړي چې ستاسې د روغتیایي مراقبتونو په هکله د تصمیم نیولو صلاحیت لري.

که چېرې د روغتیایي مراقبتونو کوم چمتو کوونکی د چارو د پاڼې له لارښوونو سره له اخلاقي، رفتاري، او یا نورو اړخونو له نظره مخالفت ولري، نو کولای شي چې دا لارښوونې تعقیب نه کړي. خو که چېرې د روغتیایي مراقبتونو کوم چمتو کوونکي مخالفت وکړ، نو که چېرې شونې وي، چمتو کوونکی باید تاسې او یا ستاسې د چارو استازي ته د دې مخالفت په اړه خبر درکړي؛ ستاسې سره مرسته وکړي ترڅو بل داسې چمتو کوونکی پیدا کړئ چې د لارښوونو سره مخالفت نه لري؛ د بل چمتوکوونکي تر معلومېدو پورې مو تاسې ته خدمات جاري وساتي؛ او پېښ شوی مخالفت او د هغې د حل لارې ستاسې په طبي سوابقو کې مستند کړي.
د مراقبتونو ټول چمتوکوونکي، د روغتیایي مراقبتونو ټول تسهیلات، او ټولې مسکوني ادارې باید داسې پروتوکولونه جوړ کړي ترڅو ډاډ حاصل شي چې د ټولو ناروغانو د چارو پاڼې، په بشپړ ډول د مقرارتو او قوانینو مطابق کنټرولېږي.

که چېرې غواړئ چې له مقرراتو څخه د سرغړوونکي کس په هکله شکایت ثبت کړئ، کولای شئ په 1-800-564-1612 شمېره د جوازونو او محافظت څانګې ته زنګ ووهئ او یا په آنلاین ډول د شکایت فورم ثبت کړئ. کولای شئ د شکایت فورم مو دې آدرس ته ولېږئ:

Division of Licensing and Protection
103 South Main Street, Ladd Hall
Waterbury, VT 05671

تاسې کولای شئ په 802-828-2909 شمېره د وېرمونټ د چلند شبکې ته زنګ ووهئ او یا www.vtethicsnetwork.org وېبسایټ ته مراجعه وکړئ ترڅو د ایالتي قانون، د چارو د پاڼو او د ژوند د هیلو په هکله نور معلومات ترلاسه کړئ.

18 مه ماده کولای شئ په http://legislature.vermont.gov/statutes/chapter/18/231 وېبسایټ کې وګورئ. تاسې کولای شئ اړین معلومات او فورمونه د لست شوو وېبسایټونو له طریقه پیدا کړئ، یا له خپل چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ، او یا د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

د بدن د غړو ورکول

ممکن تاسي وغواړئ چې له مرګ وروسته مو د بدن غړي نورو ته ورکړئ. یو تن کولای شي له ګڼو کسانو سره د بدن د غړو په برخه کې مرسته وکړي. که چېرې غواړئ په دې هکله نور وړیا معلومات ترلاسه کړئ نو 1-888-ASK-HRSA ته زنګ ووهئ.

د خپلې پالنې له لومړي چمتو کوونکي (PCP) سره د معلوماتو شریکول

د دې لپاره چې PCP مو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسي مو خپل ټول اړین روغتیایي مراقبتونه ترلاسه کوئ، نو ستاسي نوم باید په هغه لست کې موجود وي چې موږ یې هغه ته ورکوو. ځینې دا لستونه کېدی شي د لاندې مواردو په هکله وي:

- هغه کسان چې د شکر مرض لري او تېر کال یې د سترګو معاینات نه وي ترسره کړي،
- هغه ښځې چې په دې وروستیو کې یې د تیو او د سینو تلویزیوني معاینات نه وي ترسره کړي،
- هغه ماشومان چې د واکسینو حالت یې نه وي اپډېټ شوی،
- د مخدره توکو هغه ناروغان چې د نامخلوطو مخدره توکو څخه د ناوړه عکس العملونو په مخنیوي کې مرسته کوي، او
- هغه ماشومان چې د خپلو آزموینو له مهالوېش څخه شاته پاتې دي.

د محرمیت د چارو اعلامیه

کله چې تاسي زموږ پروګرام ته په شرایطو برابر شوئ نو تاسي د مستحقیت د لیک ترڅنګ، زموږ د محرمیت د چارو د اعلامیې یوه کاپي هم ترلاسه کړه. فدرالي قوانین او د صحي بیمې د احتمالاتو او مسؤلیتونو قانون (HIPAA) بیانوي چې موږ باید تاسي ته دا اعلامیه درکړو. دا اعلامیه ستاسي د محرمیت د حقوقو ترڅنګ، ستاسي د روغتیا له معلوماتو څخه استفاده او له نورو سره د معلوماتو د شریکولو څرنګوالی بیانوي. که چېرې تاسي د دې اعلامیې بلې کاپۍ ته هم اړتیا لرئ، کولای شئ د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او د بلې کاپۍ غوښتنه وکړئ. همدارنګه کولای شئ دا اعلامیه په الکترونیکي بڼه په www.humanservices.vermont.gov/privacy-documents وېبپاڼې کې وګورئ.

که چېرې فکر کوئ چې ستاسي د محرمیت له حقوقو څخه سرغړونه کېږي، لطفا په 802-241-2234 شمېره د AHS محرمیت آمر ته زنګ ووهئ او یا www.humanservices.vermont.gov/policy-legislation/hipaa/hipaa-info-beneficiaries/health-information-complaints/ وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د کیفیت د تضمین پروګرام

ګرین ماونټېن مراقبتونه د کیفیت د تضمین یو پروګرام لري ترڅو ډاډ حاصل کړي چې تاسي مو د خپلو چمتو کوونکو له خوا په ښه کیفیت روغتیایي مراقبتونه ترلاسه کوئ او د مراقبتونو پروګرام مو تاسي ته باکیفیته خدمات وړاندې کوي.

د روغتیایي مراقبتونو د کیفیت د کچې د معلومولو لپاره موږ له لاندې مواردو څخه کار اخلو:

- د ناروغ له خوا د درملو د مصرف مقدار،
- د هغو غړو تعداد چې منظم وقایوي مراقبتونه ترلاسه کوي،
- د هغو غړو تعداد چې پرته له بېړني وضعیت څخه د بېړني وضعیت له اتاقونو څخه استفاده کوي،
- د فزیکي روغتیایي مراقبتونو او د رواني روغتیایي مراقبتونو د چمتو کوونکو له خوا د مراقبتونو هماهنګ کول، او
- زموږ له پروګرام څخه د چمتو کوونکو او مشتریانو د رضایت کچه.

موږ د ځیني اوږدمهاله ناروغیو لپاره د غوره کلنیکي اقداماتو لارښود چمتو کړی او له چمتو کوونکو غواړو چې د روغتیا د پایلو د ښه کولو په موخه یې تعقیب کړي.
که چېرې غواړئ موږ ته د خدماتو د بهبود او ستاسې د خدماتو د لا مفیدیت په برخه کې پیشنهادات وکړئ، د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ. موږ به ستاسې نظریات د کیفیت د تضمین د بیاکتنې په پروسه کې استفاده کړو.

تاسې کولای شئ د روغتونونو، د پالنې د مرکزونو، او د کورنیو روغتیایي مراقبتونو د خدماتو د کیفیت په هکله معلومات، او یا د غوره کلنیکي اقداماتو د لارښود کاپي له www.greenmountaincare.org/member_information/other_resources ویبسایټ څخه ترلاسه کړئ، او یا د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

کله چې تاسې له کوم اقدام سره مخالف یئ

"اقدام" لاندې مواردو ته ویل کېږي:

- د خدماتو د ترلاسه کولو یا د خدماتو د شرایطو ردول یا محدودول، په شمول د خدماتو د نوعې، موخې یا کچې؛
- له مخکې تایید شویو خدماتو او یا د خدماتو د پلان کمول، ځنډول یا لغوه کول؛
- په پروګرام کې د شاملو خدماتو په برخه کې د تادیاتو په بشپړ یا قسمي ډول ردول؛
- د یوه چمتوکوونکي له خوا د کلنیکي خدماتو په چمتو کولو کې ناکامي؛
- د ایالتي قوانینو مطابق، په خپل وخت د کارونو په ترسره کولو کې ناکامي؛
- د یو داسې چمتوکوونکي له خوا په پروګرام کې د شاملو خدماتو ردول چې په Medicaid کې غړیتوب نه لري (په یاد ولرئ چې په Medicaid کې ناشاملو چمتوکوونکو ته د Medicaid له خوا هېڅ ډول پیسې نه ورکول کېږي).

که چېرې له کوم اقدام سره موافق نه یاست، کولای شئ د اقدام د بیاکتنې غوښتنه وکړئ. که چېرې د وېرمونټ د روغتیایي خدماتو د لاسرسي څانګه کوم پرېکړه وکړي، تاسې کولای شئ د 1-800-250-8427 شمېرې له لارې د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او د استیناف یا د پرېکړې د بیاکتنې غوښتنه وکړئ، او یا هم لاندې آدرس ته مو خپل درخواست په لیکلي بڼه واستوئ. همدارنګه کولای شئ http://www.greenmountaincare.org/member_information/appeals لینک ته مراجعه وکړئ او د استیناف او د ریسدګۍ په هکله اضافي معلومات ترلاسه کړئ

Vermont Health Connect & Green Mountain Care Customer Support Center
101 Cherry Street, Suite 320
Burlington, VT 05401

استیناف/د پرېکړې بیاکتنه

آیا فکر کوئ چې زموږ پرېکړه غلطه ده؟ لومړۍ مرحله د پروګرام دننه د استیناف غوښتل دي.

استیناف د ستونزې د حل یوه لار ده. د DVHA داسې غړي به ستاسې دوسیه تعقیب کړي چې ستاسې د موضوع په لومړۍ پرېکړه کې نه وو شامل. هغوی به تاسې ته خپله پرېکړه واوروي. دې ته "د پروګرام دننه استیناف غوښتل" وایي. ډېری وختونه، دا کار مخکې له دې چې دولتي رسیدګۍ ته درخواست وشي، ترسره کېږي.

تاسې د استیناف غوښتلو لپاره 60 ورځې وخت لرئ. دا 60 ورځنۍ موده له هغې ورځې څخه پیلېږي چې DVHA تاسې ته د لومړۍ پرېکړې خبرتیا لېږلې وه. که چېرې تاسې وغواړئ، ستاسې چمتوکوونکی هم کولای شي ستاسې پر ځای د استیناف غوښتنه وکړي. کولای شئ د تلفون له لارې او یا په لیکلي بڼه د استیناف غوښتنه وکړئ.

د استیناف غوښتنې لپاره دوه لارې موجودې دي:

1. په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ
2. دې آدرس ته لیکلی درخواست ولېږئ:

Vermont Health Connect & Green Mountain Care
Customer Support Center
101 Cherry Street, Suite 320
Burlington, VT 05401

آیا موږ په تاسې هغه روغتیایي امتیازات درولي یا قطع کړي دي چې تاسې مخکې ترلاسه کول؟ تاسې کولای شئ د پروګرام دننه استیناف غوښتنې په جریان کې مو لا هم خپل جاري امتیازات ترلاسه کړئ، خو تاسې دې کار ته د غوښتنې لپاره یوازې 11 ورځې وخت لرئ. دا 11 ورځنۍ موده له هغې ورځې څخه پیلېږي چې DVHA تاسې ته د لومړۍ پرېکړې خبرتیا لېږلې وه. د خپلو امتیازاتو د جاري ساتلو لپاره په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

د پروګرام دننه استیناف په پروسه کې کوم کارونه واقع کېږي؟ DVHA به ستاسې د لومړۍ پرېکړې د بیاکتنې لپاره یو غونډه جوړه کړي. تاسې کولای شئ په دې غونډه کې ګډون وکړئ. تاسې کولای شئ خپلې خبرې مو په خپله مطرح کړئ او یا یو بل څوک وټاکئ چې ستاسې په استازیتوب خبرې وکړي. ستاسې چمتوکوونکی کولای شي خبرې وکړي او DVHA ته معلومات وړاندې کړي. **آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟** تاسې کولای شئ په 1-800-917-7787 شمېره د روغتیایي وکالت د حقوقي مرستو دفتر ته زنګ ووهئ او په وړیا ډول حقوقي مشورې ترلاسه کړئ، او یا https://vtlawhelp.org/appeals-0 لېنک ته مراجعه وکړئ

DVHA باید په 30 ورځو کې ستاسې د استیناف غوښتنې په هکله پرېکړه وکړي. ځینې وخت د استیناف غوښتنې پروسته یو څه ځنډېږي. DVHA کولی شي 14 نورې ورځې هم وخت ونیسي، خو یوازې په دې شرط چې ستاسې لپاره ګټمن واقع شي (د بېلګې په ډول، که چېرې ستاسې چمتو کوونکی د معلوماتو د لېږلو لپاره ډېر وخت ته اړتیا لري او یا تاسې ونشئ کولی په خپل اصلي وخت کې غونډې ته حاضر شئ). د پرېکړې د نیولو لپاره اعظمي موده 44 ورځې ده.

آیا غواړئ چې DVHA ستاسې د استیناف پرېکړه ژر ترسره کړي؟ که چېرې په تمه پاتې کېدل ستاسې روغتیا یا ژوند ته جدي ګواښ پېښوي، موږ ته خبر راکړئ. که چېرې DVHA تصمیم ونیسي چې ستاسې پرېکړه ژر فیصله کړي (دې ته "چټکه پرېکړه" وایي)، نو تاسې ته به په 72 ساعتونو کې خبر درکړل شي. که چېرې تاسې ته مفید واقع کېږي، DVHA کولای شي ډېر وخت ونیسي. د چټکې پرېکړې لپاره تر ټولو اعظمي موده 17 ورځې ده.

که چېرې د پروګرام دننه استیناف له پرېکړې سره موافقت ونکړئ، څه به کېږي؟ تاسې کولای شئ د دولتي رسیدګۍ غوښتنه وکړئ. د معلوماتو لپاره لاندې برخه وګورئ.

آیا د پروګرام دننه استیناف له پرېکړې سره نه یئ موافق؟ تاسې کولای شئ د دولتي استماعیې غوښتنه وکړئ.

د بشري خدماتو د مشرتابه د رسیدګۍ د استماعیه غونډې مشر به ستاسې دوسیې ته رسیدګي وکړي. دوی به د DVHA له خوا د نیول شوې پرېکړې په اړه تصمیم ونیسي.

ډېرې وختونه، تاسې باید مخکې له دې چې دولتي رسیدګۍ ته درخواست ورکړئ، باید د DVHA د دننه استیناف غوښتنې پروسه مو بشپړه کړې وي (چې دې پروسې ته "داخلي رسیدګي" ویل کېږي). خو که چېرې DVHA ستاسې د پروګرام دننه استیناف غوښتنې په هکله پر خپل وخت پرېکړه ونکړه، کولای شئ پرته له ځنډ څخه دولتي استماعي غونډې ته درخواست ورکړئ.

تاسې د دولتي استماعي غونډې د درخواست لپاره 120 ورځې وخت لرئ. دا 120 ورځنۍ موده له هغې نېټې څخه پیلېږي چې تاسې د پروګرام دننه استیناف پرېکړې په هکله خبر ترلاسه کړ.

د دولتي استماعيي د غوښتنې لپاره دوې لارې موجودې دي:

1. په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او یا د 802-828-2536 شمېرې له طریقه د بشري خدماتو له مشرتابه سره اړیکه ونیسئ
2. دې آدرس ته لیکلی درخواست ولېږئ:

آیا موږ په تاسې هغه روغتیایي امتیازات درولي یا قطع کړي دي چې تاسې مخکې ترلاسه کول؟ تاسې کولای شئ د دولتي استماعيي غونډې د غوښتنې په جریان کې مو لا هم خپل امتیازات جاري وساتئ. تاسې د دې کار لپاره 11 ورځې وخت لرئ. دا 11 ورځنۍ موده له هغې نېټې څخه پیلېږي چې DVHA تاسې ته خپله پرېکړه لېږلې وه. د خپلو امتیازاتو د جاري ساتلو لپاره په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ.

په دولتي استماعيه غونډه کې کوم کارونه واقع کېږي؟ د بشري خدماتو د مشرتابه د استماعي غونډې مشر به یوه غونډه جوړه کړي ترڅو د پرېکړې بیاکتنه وکړي. تاسې کولای شئ په دې غونډه کې ګډون وکړئ. تاسې کولای شئ خپلې خبرې مو په خپله مطرح کړئ او یا یو بل څوک وټاکئ چې ستاسې په استازیتوب خبرې وکړي. ستاسې چمتو کوونکی کولای شي خبرې وکړي او یا د استماعي غونډې مشر ته معلومات وړاندې کړي. **آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟** تاسې کولای شئ په 1-800-917-7787 شمېره د روغتیایي وکالت د حقوقي مرستو دفتر ته زنګ ووهئ او په وړیا ډول حقوقي مشورې ترلاسه کړئ، او یا https://vtlawhelp.org/fair-hearing-how-prepare-what-expect لینک ته مراجعه وکړئ

د بشري خدماتو مشرتابه باید ستاسې د استیناف غوښتنې د درخواست له نېټې څخه وروسته، په 90 ورځو کې ستاسې په هکله پرېکړه وکړي.

آیا غواړئ چې د استماعيي غونډې مشر مو قضیه ژر فیصله کړي؟ که چېرې په تمه پاتې کېدل ستاسې روغتیا یا ژوند ته جدي ګواښ پېښوي، موږ ته خبر راکړئ. که چېرې مو د قضیې د ژر فیصله کېدو (چې دې ته "چټکه دولتي استماعيه" ویل کېږي) شرایط پوره کړل، تاسې به مو په 72 ساعتونو کې د پرېکړې په هکله خبر ترلاسه کړئ.

د روغتیایي امتیازاتو دوام

موږ په پورته برخو کې تاسې ته وویل چې د پروګرام دننه استیناف او د دولتي استماعيي د پروسې په جریان کې به ستاسې جاري امتیازات دوام لري، په شرط د دې چې په 11 ورځنۍ موده کې مو درخواست ورته کړی وي.

د امتیازاتو د دوام په هکله نور اړین موارد:

- که چېرې تاسې د امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره پیسې تحویل کړې وي، نو که پرېکړه ستاسې په ګټه وشي، تاسې به مو خپلې پیسې بېرته ترلاسه کړئ.
- که چېرې ستاسې د امتیازاتو لپاره دولت تادیات ترسره کړي وي، نوکه پرېکړه ستاسې په خلاف وي، تاسې باید ټولې هغه پیسې بېرته تادیه کړئ چې د استیناف غوښتنې په پروسه کې د دولت له خوا تادیه شوې وې.
- تاسې کولای شئ د امتیازاتو د ترلاسه کولو د درخواست سره همزمان د استیناف غوښتنې یا دولتي استماعيي غوښتنه وکړئ.
- که چېرې تاسې د داسې امتیازاتو په هکله د استیناف یا دولتي استماعيي غوښتنه کوئ چې هغه امتیازات ستاسې لپاره پای ته رسېدلي او یا په فدرالي قوانیو کې د تغییراتو له امله ځنډول شوي دي، نو ستاسې امتیازات به دوام ونلري.

- که چېرې تاسې د کمکي تادیاتو په هکله د دولتي استماعيي غوښتنه کوئ، نو تاسې مو باید خپل کمکي تادیات په خپل وخت سره تحویل کړئ، ګنې ستاسې خدمات به بند شي. که چېرې د استیناف یا دولتي استماعيي پرېکړه ستاسې په ګټه وه نو تاسې ته مو خپل ټول تادیه شوي اضافي لګښتونه بېرته ترلاسه کړئ.

نارضایتی

نارضایتي، له اقداماتو پرته، د ځینې مواردو په هکله شکایت لرل دي لکه، د روغتیایي مراقبتونو د چمتو کوونکي موقعیت یا هغه ته د سفر سهولت، د روغتیایي مراقبتونو کیفیت، او یا دا چې ستاسې حقوق په تاسې معکوسه اغېزه ولري. تاسې کولای شئ هر وخت چې وغواړئ، د نارضایتی فورم ډک کړئ. که چېرې تاسې نه شئ کولی له خپل چمتو کوونکي سره مو اختلافات حل کړئ، نو کولی شئ د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ او د نارضایتی فورم ډک کړئ، او یا د چمتوکوونکو او د خدماتو د کیفیت له مسؤلې څانګې سره په اړیکه کې شئ. یاده څانګه به تاسې ته په 90 ورځو کې ستاسې موضوع ته د رسیدګی په هکله خبر درکړي.

که چېرې تاسې د نارضایتی فورم ډک کړئ او له پایلې څخه یې نه یئ راضي، کولای شئ د نارضایتی د پایلې د بیاکتنې غوښتنه وکړئ. یو دریم ګړی به ستاسې د نارضایتی د فورم بیاکتنه وکړي ترڅو ډاډه شئ چې د نارضایتو د حل پروسه په شفاف ډول ترسره کېږي. تاسې به د بیاکتنې د پایلې په هکله یو لیک ترلاسه کړئ. ګرین ماونټېن مراقبتونو نه شي کولای تاسې یا ستاسې چمتو کوونکی د استیناف غوښتلو لپاره مجازت کړي یا پروړاندې یې اقدام وکړي. که چېرې د نارضایتی یا استیناف غوښتنې د پروسې په هکله هر ډول پوښتنه لرئ، د ګرین ماونټېن د مراقبتونو کارکوونکي کولای شي ستاسې سره مرسته وکړي. تاسې کولای شئ د استیناف یا دولتي استماعيي ته د درخواست او د نارضایتی فورم د ډکولو په برخه کې د خپلې کورنۍ له غړي، ملګري یا کوم بل کس (لکه ستاسې چمتو کوونکی) څخه مرسته وغواړئ. تاسې باید دولت ته دا کس معرفي کړئ او هغوی ته ووایئ چې دا کس ستاسې پر ځای چارې پر مخ بیایي. دا کس د پروسې په جریان کې ستاسې استازیتوب کولی شي. که چېرې تاسې په دې درخواستونو باندې نه یئ پوه، او یا د درخواست د مراحلو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرئ، لطفا په 1-800-250-8427 شمېره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ ترڅو مرسته ترلاسه کړئ. همدارنګه تاسې کولی شئ د مرستې لپاره د 1-800-917-7787 شمېرې او یا vtlawhelp.org/health له لارې د روغتیایي مراقبتونو د وکالت له دفتر سره اړیکه ونیسئ.

آیا مرستې ته اړتیا لرئ؟

د وېرمونټ روغتیایي خدمات او د ګرین ماونټېن مراقبتونو د مشتریانو د ملاتړ مرکز

د وېرمونټ روغتیایي خدمات او د ګرین ماونټېن مراقبتونو د مشتریانو د ملاتړ مرکز ستاسې سره مرسته کوي. هغوی کولای شي د پروګرام په هکله ستاسې پوښتنې ځواب کړي، ستاسې سره د PCP تعینولو او تبدیلولو کې مرسته وکړي، او یا د مراقبتونو د ترلاسه کولو په برخه کې ستاسې ستونزې حل کړي.

تاسې کولی شئ له دوشنبه تر جمعې، د سهار له 8:00 د ماښام تر 5:00 پورې د 1-800-250-8427 شمېرې یا TDD له لارې د مشتریانو د ملاتړ د مرکز له کاروونکو سره په اړیکه کې شئ 1-888-834-7898.

په 10 ورځو کې، د لاندې مواردو په هکله موږ ته خبر راکړئ:

- ستاسې په عوایدو یا کورنۍ کې بدلون،
- ستاسې د اوسېدنې د ځای بدلون،
- د ماشوم پیدا کېدل یا په فرزندي نیول،
- مړینه، او
- نورې هغې صحي بیمې چې تاسې یې ترلاسه کوئ.

د روغتیایي مراقبتونو د وکالت دفتر (HCA)

د روغتیایي مراقبتونو د وکالت دفتر کولای شي ستاسي سره د روغتیایي مراقبتونو او امتیازاتو د ستونزو د حل په برخه کې مرسته وکړي. د روغتیایي مراقبتونو د وکالت دفتر کولای شي ستاسي سره د نارضایتۍ د فورمونو، استیناف غوښتنې او دولتي استماعیې په برخه کې مرسته وکړي. تاسي کولی شئ په 1-800-917-7787 شمېره د HCA دفتر ته زنګ ووهئ.

اضافي معلومات

موږ خوښ یو چې د پروګرام غړو ته د خپلو خدماتو او چمتو کوونکو په هکله معلومات ورکوو. سربېره په هغو معلوماتو چې په دې لارښود کې موجود دي، تاسي کولای شئ د لاندې مواردو په هکله هم معلومات ترلاسه کړئ:

- ستاسي په ساحه کې د چمتوکوونکو لست چې زموږ په پروګرام کې ونډه لري،
- د پروګرام قوانین او مقررات،
- زموږ د کیفیت د بهبود پلان، او
- د په پروګرام کې د نورو شاملو خدماتو په هکله تفصیلي معلومات.

همدارنګه تاسي کولی شئ په www.greenmountaincare.org وېبسایټ کې زموږ د پروګرام د شرایطو او امتیازاتو په هکله معلومات ترلاسه کړئ.

نور پروګرامونه

د ماشومانو، لویانو او کورنیو لپاره نور پروګرامونه او خدمات هم موجود دي. د دې خدماتو ټرانسپورټ ته لاسرسی په هغه پروګرام پورې تړاو لري چې تاسي ونډه پکې اخیستې ده. د ټرانسپورټ د شرایطو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د مشتریانو د ملاتړ مرکز ته زنګ ووهئ. له دې پروګرامونو څخه ځینې یې په شرایطو د برابرېدو لپاره اضافي اړتیاوې لري. که چېرې کومه پوښتنه لرئ او یا غواړئ پوه شئ چې آیا په شرایطو برابر یئ او که نه، نو په لاندې لست کې له موجودو پروګرامونو سره اړیکه ونیسئ.

Adult Day خدمات

Adult Day خدمات لویانو او ملعولیت لرونکو لویانو ته یو لړ خدمات وړاني کوي ترڅو هغوی په خپلو کورونو کې د امکان تر حده خپلواک ژوند ولري. Adult Day خدمات، په ټولنیز ډول او په غیر استوګنیزو ورځو کې خدمات وړاندې کوي او یو خوندي او ملاتړی چاپېریال رامنځته کوي ترڅو خلک وکولای شي روغتیایي او ټولنیزو خدماتو ته لاسرسی پیدا کړي. د نورو معلوماتو لپاره په 802-871-3217 شمېره د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS) ته زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د حاضرینو د خدماتو پروګرام (Attendant Services Program)

دا پروګرام له هغو معلولو لویانو څخه د مستقل اوسېدو په برخه کې ملاتړ کوي چې په ورځنیو فعالیتونو کې فزیکي مرستې ته اړتیا لري. د دې پروګرام ګډونوال کولای شي د خپلو شخصي مراقبینو ګومارنه، روزنه، او څارنه وکړي او د هغوی لپاره مهالوېش جوړ کړي. د نورو معلوماتو لپاره په 802-871-3043 شمېره د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS) ته زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د ماشومانو اړوند خدمات (CIS)

CIS د هغو مېندواره یا زچه ښځو او کورنیو لپاره د مرستې سرچینه ده چې له نوي زیږېدلي تر 6 کلنۍ پورې ماشومان لري. زموږ ټیمونه په دې برخو کې تخصص لري: ټولنیزې چارې او د کورنیو ملاتړ، د مورتوب/د ماشوم روغتیا او پالنه، د ماشوم وده او لومړنۍ مرستې، د نویو زیږېدول ماشومانو او کورنیو روغتیا، د ماشوم مراقبت، او نورې برخې (لکه، تغذیه، د خبرو او ژبې په برخه کې د ماشوم روزنه). د نورو معلوماتو لپاره، د کورنیو او ماشومانو د ودې له څانګې سره په 1-800-649-2642 شمېره اړیکې ونیسئ.

د ماشومانو اړوند خدمات – لومړنۍ مرستې (CIS-EI)

دا د هغو 3 کلنو یا ټیټو ماشومانو د ملاتړ ځانګړی پروګرام دی چې معلولیت لري او یا یې وده ځنډېدلې ده. نوې زیږېدلو ماشومانو، پلپلو ماشومانو او کورنیو ته د لومړنیو مرستو په برخه کې خدمات چمتو کوي. د نورو معلوماتو لپاره د وېرمونټ د کورنیو له شبکې سره په 1-800-800-4005 شمېره اړیکه ونسئ.

د ماشومانو د فردي مراقبت خدمات

د ماشومانو د فردي مراقبت خدمات، چې د ماشومانو د ځانګړو روغتیایي اړتیاوو (CSHN) د برخې په توګه د مستقیمو مراقبتونو خدمات دي – د Medicaid له خوا چمتوکېدونکي خدمات دي او له هغو 21 کلنو یا ټیټو افرادو څخه ملاتړ کوي چې د پام وړ او اوږدمهاله معلولیت لري، او یا داسې صحي شرایط لري چې د دوی په سني ودې او د ورځنیو چارو د ترسره کولو په وړتیاوو (ADL) باندې جدي ناوړه اغېزې لري. د ماشومانو د فراي مراقب د خدماتو (CPCS) موخه دا ده چې له ماشومانو سره د هغوی د فردي مراقبت په برخه کې اضافي مرستې وکړي. د نورو معلوماتو لپاره په 802-865-1395 at شمېره له مدیر سره اړیکه ونسئ، او یا په 802-951-5169 شمېره متخصص ته زنګ ووهئ، او یا هم
www.healthvermont.gov/family/chindrenspersonalcareservices.aspx وېبسایټ ته مراجعه وکړئ

د ځانګړو روغتیایي اړتیاوو لرونکو ماشومانو (CSHN) کلنیک

دا پروګرام هغو ماشومانو ته کلنیکي خدمات او د مراقبتونو د هماهنګۍ خدمات وړاندې کوي چې ځانګړې روغتیایي اړتیاوې لري. همدارنګه، دا پروګرام د ځینو هغو مراقبتونو د تادیاتو په برخه کې مرستې وړاندې کوي چې د بیمې یا Dr. Dynasaur له خوا نه وړاندې کېږي. د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته په 1-800-464-4343 شمېره زنګ ووهئ او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

Choices for Care پروګرام

Choices for Care د مراقبتونو یو اوږدمهاله پروګرام دی چې د مراقبتونو لګښتونه تادیه کوي او د وېرمونټ له زړو غړو او فزیکي معلولیت لرونکو افرادو څخه ملاتړ کوي. دا پروګرام له خلکو سره د کور د ورځنیو چارو، د غوره استوګنیزو مراقبتونو په چمتو کولو، او د کورنیو د پالنې په برخه کې مرسته کوي. دا زموږ چمتو کوونکي دي: Adult Day مرکزونه، د زړو افرادو ساحوي مرکزونه، استوګنیز مرستندویان، د کورنۍ روغتیایي مرکزونه، د پالنې آسانتیاوې، او د استوګنیزې پالنې کورونه. د نورو معلوماتو لپاره، د مرستې له اصلي خط سره په 1-800-642-5119 شمېره اړیکه ونیسئ او یا
http://www.ddas.vermont.gov/ddas-programs/programs-cfc/ وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د نمویي معلولیت خدمات

د نمویي ودې خدمات له ټولو نمویي معلولیت لرونکو کسانو سره مرسته کوي ترڅو په خپلو کورونو کې له خپلو کورنیو سره یوځای ژوند کړي. په دې خدماتو کې د افرادو د دوسیو مدیریت، د هغوی د ګومارنې خدمات، ټولنیز ملاتړ او د استراحت وقفې شاملې دي. دا چمتو کوونکي، باید د پرمختیایي خدماتو چمتو کوونکي یا د خلکو لپاره دواسطه یې خدماتو سازمانونه وي چې خپل خدمات په خپله اداره کوي. د نورو معلوماتو لپاره په 802-871-3064 شمېره د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS) ته زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

اولیه او دوراني معاینات، تشخیص او درملنه (EPSDT)

د مالي مرستې پروګرام

دا یو اختیاري پروګرام دی چې، کله چې د CSHN پروګرام له خوا د مراقبتونو تجویز یا اجازې ورکول بشپړ شي، له کورنیو سره د هغوی د ماشومانو له بیمې وروسته مراقبتونو د لګښتونو په برخه کې مرسته کوي. د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته په 1-800-464-4343 شمېره زنګ ووهئ او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

له کورنیو سره غیر ثابې مالي مرستې (Flexible Family Funding)

Flexible Family Funding د ټولو عمرونو افرادو لپاره دي چې معلولیت لري او له خپلې کورنۍ سره ژوند کوي، او د کورنیو له هغو غړو څخه ملاتړ کوي چې نمویي معلولیت لري. دا پروګرام څرګندوي چې کورنۍ ماشومانو او ډېرې نمویي معلولیت لرونکو کسانو ته د مراقبینو په حیث کولای شي ترټولو ښه او طبیعي د اوسېدلو ځایونه چمتو کړي. دا مالي مرستې کېدی شي د کورنیو د خدماتو او ملاتړ لپاره وکارول شي ترڅو افرادو یا کورنیو ته ګټه ورسوي. د دې خدماتو چمتو کوونکي، د پرمختیایي خدماتو چمتو کوونکي دي (مشخصې شوې اداري). د نورو معلوماتو لپاره په 802-786-5081 شمېره د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS) ته زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د پرمختللې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د مراقبتونو کور

دا په کور کې د هغو کسانو د پالنې پروګرام دی چې د ژوندي پاتې کېدلو لپاره پرمختللې ټکنالوژۍ ته اړتیا لري او یا مغلقې روغتیایي اړتیاوې لري. د دې پروګرام موخه دا ده چې له روغتون یا نورو روغتیایي مرکزونو څخه کور ته د ناروغ د انتقال په برخه کې ملاتړ وړاندې کړي ترڅو په روغتیایي مرکزونو کې د بستر کېدلو مخنیوی وشي. د 21 کلنو یا لویو کسانو په هکله د معلوماتو لپاره د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS)/د کلنیکي خدماتو څانګې ته په 802-871-3044 شمېره زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ. د ماشومان لپاره د پرمختللې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د مراقبتونو کور د هغو 21 کلنو څخه ټیټو ماشومانو لپاره دی چې ځانګړې روغتیایي اړتیاوې لري. د نورو معلوماتو لپاره، د ماشومانو لپاره د پرمختللې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د مراقبتونو د کور د پالنې مدیر ته په 802-865-1327 شمېره زنګ ووهئ او یا http://healthvermont.gov/family/cshn/pedihitech.aspx وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.
د Medicaid ضعیف غړي. دا پروګرام

د کور د مشر د خدماتو لپاره دی

د کور د مشرانو لپاره د وېرمونټ پروګرام له هغو 18 کلنو یا لویو معلولیت لرونکو کسانو سره مرسته کوي چې د کور د کارونو د ترسره کولو په برخه کې فردي مرستو ته اړتیا لري. په دې کې خریداري، پاک کاري او د کالیو مینځل شامل دي. دا خدمات له خلکو سره مرسته کوي ترڅو په یو صحي او خوندي چاپېریال کې خپلواکه ژوند ولري. چمتو کوونکي، د کورنیو روغتیایي مرکزونه دي. د نورو معلوماتو لپاره، د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS)/د فردي ملاتړ څانګې ته په 802-871-3069 شمېره زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

ځانګړي کلنیکونه

دا یو لړ ګڼ اړخیزه د ماشومانو کلنیکونه دي چې د پالنې او روغتیایي چارو د ټولنیزو کارکوونکو له خوا تمویل او اداره کېږي ترڅو د مستقیمو خدماتو لپاره یو جامع، کورنۍ محوره، او هماهنګ سیستم جوړ کړي. دا کلنیکونه په دې برخو کې تخصص لري: کارډیولوژي، د ماشوم پرمختګ، د سر کوپړۍ/په شونډو او تالو کې سوري، سپستیک فیبروسیس، عصب/نیورولوژي، لاس، د ځوانانو روماتوئید آرتریټیز، میتابولیزم، میلومینګوسیل، د عضلاتو نقص، ارتوپیډي، ریزوتومي، او نورې برخې. د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته په 1-800-464-4343 شمېره زنګ ووهئ او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

ځانګړي خدمات

د CSHN نرسان یا طبي ټولنیز کارکونکي چې د روغتیا د ریاست په سیمه ایز دفترونو کې میشته دي، هغو روغتیایي مراقبتونو ته په لاسرسي او د هغوی په همغږۍ کې مرسته کوي چې د CSHN د مستقیمو خدماتو په کلینیکونو کې نه وي موجود. د وېرمونټ د روغتیا څانګې ته په 1-800-464-4343 شمېره زنګ ووهئ او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د وېرمونټ د لومړيو غږيزو ستونزو د تشخيص او مرستو پروګرام

غږ پېژندونکي د ايالت په 12 ساحو کې د مشاومانو لپاره غږيزې معاينې او تشخيصيه خدماتو ته راجع کول وړاندې کوي. د دې پروګرامونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره لطفا 1-800-537-0076 شمېرې ته زنګ ووهئ او يا http://healthvermont.gov/family/hearing/ وېبسايټ ته مراجعه وکړئ.

رواني روغتيا

وېرمونټ ايالت، په ټول ايالت کې د مشخصو شويو ادارو سره قرارداد کوي ترڅو هغه اشخاصو او کورنيو ته د رواني روغتيا د خدماتو لړۍ چمتو کړي چې د لوړ احساساتي اضطراب، رواني ناروغۍ، يا د چلند له ستونزو سره مخ دي او کولای شي د دوی ژوند ګډوډ کړي. خدمات نظر هرې ادارې يا سازمان ته توپير کوي، خون اصلي پروګرامونه په ټولو مشخصو شويو ادارو کې موجود دي. د هرې ساحې د پذيرايۍ کارکوونکي له افرادو سره د موجودو پروګرامونو او خدماتو په تعيين کې ګډ کار کوي ترڅو د افرادو اړتياوې پوره شي. سربېره پر دې، مشخصې شوې ادارې د اړتيا په صورت کې د ايالت په کچه متمرکزو استوګنيزو خدماتو، د روغتونونو دبېړنيو مراقبتونو خدماتو، او د بستر شويو ناروغانو مراقبت ته لاسرسی چمتو کوي. د رواني روغتيا د څانګې سره د اړيکې لپاره 1-888-212-4677 يا 802-828-3824 شمېرې ته زنګ ووهئ او يا www.mentalhealth.vermont.gov وېبسايټ ته مراجعه وکړئ.

د غير بستري لويانو خدمات

دا پروګرام هرې ادارې ته مختلف خدمات وړاندې کوي، او د انتظار لستونه يې عام دي. دا خدمات سربېره پر دې چې د هغو شپېته کلنو يا لويو افرادو لپاره خدمات وړاندې کوي چې د رواني روغتيا مراقبتونو ته اړتيا لري، د ارزونې، مشاورې، د دوا د تجويز او د نظارت خدمات هم وړاندې کوي. ځينې خدمات د شخصي چمتو کوونکو له خوا وړاندې کېږي، نو کېدی شي ځينې افراد هغوی ته راجع شي.

د ماشومانو، ځوانانو او کورنيو خدمات

دا پروګرام کورنيو ته د درملنې خدمات او ملاتړ چمتو کوي ترڅو هغه ماشومان چې د رواني روغتيا ستونزې لري، وکولای شي ژوند وکړي، زده کړې ترسره کړي، او په ښوونځي او ټولنه کې ښه وده ولري. په دې خدماتو کې معاينات، وقايوي خدمات، ټولنيز ملاتړ، درملنه، مشاوره او د ناورينونو ته غبرګون شامل دي.

د ټولنې احيا او درملنه

دا پروګرام د ټولنې په کچه د رواني روغتيا خدمات وړاندې کوي ترڅو افراد وکولای شي په بشپړ خپلواک ډول د خپلې کورنۍ، ټولنې، ملګرو او ګاونډيانو ترڅنګ ژوند وکړي. د CRT جامع خدمات يوازې د هغو لويانو لپاره موجود دي چې شديدې او دوامداره رواني ناروغۍ لري او ټول اضافي تشخيصيه شرايط يې پوره کړي وي لکه: د خدماتو کارول او په روغتون کې د بسترۍ سابقه، د معلوليت شدت، او کاري نيمګړتياوې.

بېړني خدمات

دا پروګرام افرادو، اداراتو او ټولنو ته په اونۍ کې اووه ورځې، په 24 ساعته ډول د رواني روغتيا بېړني خدمات وړاندې کوي. په ضروري بېړنيو خدماتو کې تلفوني ملاتړ، مخامخ ارزونې، راجع کول او مشاورې شاملې دي.

مغز ته د رسېدلیو ضربو پروګرام

دا پروګرام د وېرمونټ د هغو 16 کلنو یا لویو استوګنو سره مرسته کوي چې مغز ته یې متوسطه یا شدیده ضربه رسېدلي وي. دا پروګرام خلک له روغتونونو او تسهیلاتو څخه ټولني ته د سازګارۍ په لور منحرفوي. دا یو احیایي او اختیاري پروګرام دی چې له افرادو سره مرسته کوي ترڅو په ژوند کې بشپړه خپلواکي ترلاسه کړي او وکولای شي بېرته خپل کار ته ستانه شي. د نورو معلوماتو لپاره، د معلولیت او زړښت د خدماتو څانګې (DDAS)/د فردي ملاتړ څانګې ته په 802-871-3069 شمېره زنګ ووهئ او یا www.ddas.vermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ.

د ښځو، نویو زیږېدلیو ماشومانو، او ماشومانو پروګرام (WIC)

WIC پروګرام له میندو او تنکیو ماشومانو سره د معلوماتو او غذایي توکو د چمتو کولو له طریقه مرسته کوي ترڅو هغوی ښه غذایي برنامه ولري او روغ پاتې شي. که چېرې په شرایطو برابر یاست، کولای شئ په ایالت کې 62 موجودو ساحوي مرکزونو ته مراجعه وکړئ. په دې امتیازاتو کې غذایي خبرپاڼې، د پخلي کورسونه، له مزرعې تر کوره کوپونونه، او د خوړو انفرادي بستې شاملې دي. که نورو معلوماتو لپاره، په خپله ساحه کې د وېرمونټ د روغتیا د څانګې دفتر ته په 1-800-649-4357 شمېره اړیکه ونیسئ او یا www.healthvermont.gov وېبسایټ ته مراجعه وکړئ

ستاسې د ټولنې د سرچینو په هکله نور معلومات کولی شئ له www.vermont211.org وېبسایټ څخه ترلاسه کړئ.

توجه! که چېرې په خپله ژبه مرستې ته اړتیا لرئ، لطفا 1-800-250-8427 شمېرې ته زنګ ووهئ

Attention! Si vous avez besoin d'assistance dans votre langue, appelez le 1-800-250-8427

¡Atención! Si necesita ayuda en su idioma, por favor llame al 1-800-250-8427

Pažnja! Ako vam je potrebna pomoć na vašem jeziku, pozovite 1-800-250-8427

Ogow! Haddii aad u baahan tahay in lagugu caawiyo luqaddada, fadlan wac 1-800-250-8427

သတိပြုရန်! မိတ်ဆွေသည် သင့်ဘာသာစကားဖြင့် အကူအညီ လိုပါက၊ ကျေးဇူးပြုပြီး 1-800-250-8427 ကိုခေါ်ပါ။

ध्यान दिनुहोस्! तपाईंलाई आफ्नो भाषामा मद्दत चाहिएको छ भने कृपया 1-800-250-8427-मा फोन गर्नुहोस्।

Muhimu! Kama wahitaji usaidizi kwa lugha yako, tafadhali piga simu 1-800-250-8427